پوهندوی آصف بهاند


۱۷ جولای ۲۰۱۲

## داستاد شريف بهاند لومړی تلين

## (دافغان اقتصاد پوه استاد شريف بهاند ژوند اوعلمي هڅوته يوځغلند نظر)

بيا هم وير، دويرياد، دويرسيوری، زموراوړي اوزموږ زغم.دادی نن د۲۰۱۲ کال د جولای اوه لسمه (۱۷) نيته ده. يوکال مخکي په همدي ورځ دلومړي ځل له پاره د« لراوبر» ويبپاڼي خبر ورکړ:

«افغان اقتصاد پوه، شريف بهاند نن يکشنبه په جرمني کي دورپيښي ناروغی له امله په حق ورسيدئ ...
http://larawbar.org/details.php?id=27617&date=2011-07-17»

په دې ډول داستاد شريف بهاند دمرګ دخبرپه اوريدوسره دبهاندکورنی اودافغانستان علمي ــ فرهنګي کړيوخپل يوزړه سواندی پوه له لاسه ورکړ؛ اودادی نن يي ويريوکلن شو.دده دويردادروندپيتی، دده کورنی، دوستان،هم مسلکان، شاګردان، دعلم اوفرهنګ لارويان دخپل روح پراوږوچلوي.ماته خوداسي برېښي چي استادموپرون خاوروته وسپاره،خو« شيرين عمرچي تيريږي دريغه،دريغه ...»

دا دی يوکال له هغي ورځي تيرشوچي استاد شريف بهاند موتوروخاوروته وسپاره.

که په ويروي که په خوشالتيا، وخت نه دريږي، خوزموږله پاره دروند ځکه دی چي يوخوا دوطن، خلکواوجګړي ويراونه تماميدونکي خواشيني؛ بل خوا استاد شريف بهاند په داسي وخت کي خدای رانه واخيست چي غم دپاسه غم شواوزموږ زخمونه يي داسي سره راتازه کړل چي زغمل اوچلول يي نورنو ...

داستاد شريف بهاند دويرديوکلن کيدوپه پلمه دده ژوند، زدکړو، ترسره کړودندو، آثاروليکلوــ ژباړلومقالواوعلمي فعاليتونوته دلاس لرلواسنادواوله ده نه راپاتي آثاروپه رڼا کي، يوځغلند نظراچول کيږي:

استاد محمدشريف بهانددمحمدعمر زوی، د۱۹۵۲ ميلادي کال دفبروری په اتمه نيته دکابل په بريکوټ کي زيږيدلی دی. دلومړي ځل له پاره قلم، کاغذ اوتوره دړه په لاس دلومړنيوزده کړوله پاره دکابل دچاردهي دعلاءالدين تجربوي ښوونځي ته لاړ.دلومړنيوزده کړو له بشپړلووروسته، په ډيره مينه دکابل نجات ليسي ته ورغی اوپه ۱۹۷۳ کال کي يي دا ليسه پای ته ورسوله.

دليسي له پای ته رسولووروسته يي دکابل ښاروالی دپلان جوړولوپه څانګه کي مأموريت پيل کړ. دوه کاله وروسته، په ۱۹۷۶ کي دلوړوزده کړو له پاره دکابل پوهنتون اقتصاد پوهنځي ته ورغی اوپه ۱۹۷۹کال کي يي دهمدې پوهنځي دپلان جوړولو له څانګي نه، په بريالیتوب سره د B-A Economic لوړه درجه ديپلوم ترلاسه کړ.

کله ددولت عادي مأمورشو، کله دپوهنتون استاد، کله ديوې علمي تحقيقاتي مؤسسي غړی، کله دميډيا دلارې لاروی، کله دعلمي مقالواوکتابونوليکلوال اوژباړونکی اوپه پای کي ښوونکی، مدرس اواستاد.

د۱۹۸۰کال په دريمه مياشت کي يي دصدارت دتفتيش اوکنترول په رياست کي دکارکوونکي په توګه کارپيل کړاوڅه موده وروسته دپوځي خدمت دترسره کولوله پاره، دپوځ دايرې ته ورننوت.

استاد شريف بهاند د۱۹۸۲ميلادي کال په نهمه مياشت کي دکابل پوهنتون داقتصاد پوهنځي په علمي کدرکي ومنل شو. د۱۹۸۳کال په نهمه مياشت کي دلوړوزده کړو له پاره بهر ته لاړاوپه ۱۹۸۵ کي يي دجرمني دهمبولت پوهنتون داقتصاد له پوهنځي نه په لوړه درجه دماسترۍ ديپلوم ترلاسه کړاوپه بريالیتوب سره وطن ته راستون شو، خودحاکموسياسيونودپاليسی له مخي دپوهنتون دعلمي کدر امتيازورنه واخستل شو.

خودی بيا هم مأيوسه نه شو،غلی کيناست اودخپل مسلک علمي لاره يي پرې نه ښوده. د۱۹۸۵کال په يولسمه مياشت کي دافغانستان دعلومواکاديمی دټولنيزوعلومودڅانګي په غړيتوب ومنل شو. خوبيا دعسکرۍ داحتياط ددروې له پاره پوځ ته وليږل شو، ددې دورې له پای ته رسولو وروسته بيا هم خپلي دندې ته راستون شواوپه ډيرې علمي مينې سره يي دافغانستان دعلومو په اکاديمۍ کي خپل علمي کارونه پرمخ بيول.

د۱۹۸۸کال په نهمي مياشتي کي يي دالمان ديموکراتيک جمهوريت دهمبولت له پوهنتون څخه ددکتورا دبورس په ترلاسه کولوسره دغه هيواد ته ستون شواوپه لوړوزده کړويي پيل وکړ.

په ۱۹۹۲کال کي کله چي په افغانستان کي تنظيم واکي اوتوپک سالاري رامنځ ته شوه ، داستادشريف بهاند له طرزتفکراواصولوسره يي داسي منافات درلودل، لکه مرګ اوژوند. دهمدې دليل له مخي بيا افغانستان ته ستون نه شواوپه المان کي يي ژوند اوکار پيل کړل.

د۱۹۹۵کال له فبرورۍ مياشتي نه،د۱۹۹۶کال ترسپتمبرپورې يي دالمان دملي شتمنۍ دخصوصي کولوپه شرکت کي ديوه اقتصاد پوه په توګه دنده ترسره کړه.

د۱۹۹۶کال له نهمي مياشتي نه د۱۹۹۷کال ترجولای پورې يي د منجمنت اواداري په يوه اړين کورس کي ګډون وکړچي دکورس موضوع يي داسي وه:

« داقتصادتصدي، منجمنت، محاسبه، دکارحقوق اوکمپيوتري چارې »

کورس يي په بريالیتوب پای ته ورساوه، بيا دخپلومسلکي دندودترسره کولوله پاره چمتوشو.

د۱۹۹۷ کال له اګست نه د۱۹۹۹کال ترنهمي مياشتي پورې يي دالمان په بيلابيلوشرکتونوکي کاروکړاوترڅنګه يي دهمبولت پوهنتون دختيځ پيژندني په پوهنځي کي دپښتوژبې په تدريس بوخت شو.

په همدې وخت کي يي له دې کارونوسره سره دافغاني ټولني دځانګړنواواقتصادي جوړښت په اړوند په سمينارونوکي هم فعال ګډون درلود، مقالي يي ورته ليکلي اولکچرونه يي اورول.

د۱۹۹۹کال دسپتمبر له مياشتي څخه يي د ۲۰۰۲ کا ل دمارچ ترمياشتي پورې دپرمختيايي هيوادونواوافغانستان په اړوند دڅيړنيزوپروژودغړي په توګه دنده ترسره کړه اودهمدې دندې ترڅنګه يي دختيځ پيژندني په پوهنځي کي دپښتوژبې تدريس ته دوام ورکړ.

د ۲۰۰۲ کا ل له اپریل څخه د۲۰۰۵ کا ل تر اکتوبرترمیاشتي پورې دالمان غږپه تلویزیون کې دپښتوخپروني دغږي په توګه وټاکل شو.

بیا د۲۰۰۶ کال له فبروری میاشتي څخه د۲۰۰۷ کال ترفبروری پورې دهمبولت پوهنتون په چوکاټ کي دافغانستان دستونزوپه اړه دیوې څیړنیزې پروژې دغږي په توګه په کاربوخت شو.

د۲۰۰۸ کال له مارچ میاشتي نه یې غیردولتي آزاده دنده ترسره کوله اودهغه ترڅنګه یې خپل علمي فرهنګي کارنه هم پرمخ بیول.

دیادورسمي اوغیررسمي دند وترڅنګه یې دغه ویاړلې دندې هم ترسره کړي دي:

ــ دافغانستان دژبوتدریس،

ــ دافغانستان دکلتور اوټولنیزجوړښت دڅرنګوالي په باب په سیمینارونوکې ګډون،

دیوه لاربنود استاد په توګه دمحصلینودعلمي لیکنوسمون اودعلمي کارونوپه برخه کې له هغوسره مرسته.

وروستۍ دنده یې د ۲۰۱۰ کال په جنوري کې پیل کړه، هغه دالمان په یوې اکادیمۍ کې داستادۍ ویاړلې دنده وه.

استاد شریف بهاند پرته له مورنۍ ژبې پښتوڅخه، په فارسي اوجرمني ژبوبشپړلاسبری درلود، پرې غږیده، لیکنې یې پرې کولې اوپه ژباړوکې یې ګټه ورنه اخیسته. ده په پښتو، فارسي اوجرمني ژبو، دنړیوال اقتصاد، سیاست اوټولنیزوستونزوپه باب په لسهاوو مقالې اوکتابونه لیکلي اوژباړلي دي.

څنګه چې اقتصاد اوسیاست زما دتحصیل اوتحقیقاتوڅانګه نه ده، ځکه ځان ته دا حق نه ورکوم چې دده دآثارواومقالودښیګڼواونیمګړتیاووپه باب څه ووایم. دلته به دده دعلمي کارونودپېژندنې په خاطر، ده اودده علمي کارونو ته ددرناوي له پاره اودراتلونکوڅیړنودلاروښانتیا په خاطر؛ دده دهغوآثارو، مقالواوژباړویادونه وکړم چې ما ته مالومې دي. دلته یې زه یوازې سرلیکونه، دخپریدونیټې اودخپریدوځایونه په نښه کوم :

زما دمعلوماتوله مخې استاد شریف بهاندپه کابل پوهنتون کې دتدریس اودافغانستان دعلوم‌واکادیمۍ کې دغړیتوب په دوره کې هم ځینې څیړنیزې مقالې لیکلې دي چې داوس له پاره په لاس کې نه شته. په افغانستان کې دټوپکي ناتار په رامنځ ته کیدوسره د ډیرو مادي اومعنوي شتمنیودله منځه تلو ترڅنګه دافغانستان شخصي اودولتي کتابتونونه هم تالان اوله منځه ولاړل، دهمدې دلیل پر بنا هلته داستاد دلیکنودخپریدوآدرس او پته پیدا کول داوس له پاره یوڅه ګران کار دی.

دلته په اروپا کې دافغان ویبسایټونوپه رامنځ ته کیدوسره داستادشریف بهاندمقالې په ځینو ویبسایټونوکې خپرې شوې دي، خولومړنۍ څیړنیزې علمي تحقیقي مقالې یې په افغان جرمن آنلاین (afghan-german.com) کې را څرګندې شوې.

په افغان جرمن آنلاین کې اوه (۷) لومړنۍ مقالې پرته له نیټې خپرې شوې دي اواتمه مقاله یې بیا په(۲۰۰۶/۰۹/۰۹) نیټه د ((خونړۍ پولې)) ترسرلیک لاندې خپره شوې ده. افغان جرمن آنلاین ځکه لومړۍ یادوم چې په بینوا ویبپاڼه کې هم داستادلومړنۍ مقاله پرته له نیټې چاپ شوې ده اودهمدې مقالې په مآخذونوکې افغان جرمن آنلاین ویبپاڼه دمآخذ په ډول ښودل شوې ده.

دافغان جرمن آنلاین دلیکوالودآرشیف په لست کې داستاد شریف بهاند نه دیرش (۳۹) مقالې ثبت شوي دي، خودا په حقیقت کې اته دیرش مقالې دي، دفهرست په لست کې، په شپږمه اواومه شمیره کې یوه مقاله دوه ځلې ثبت شوې ده.ددغومقالوسرلیکونه اودخپریدونیټې په لاندې ډول دي:

۱ــ حقیقت ممنوع (درگیری های اضلاع متحده امریکا با اسامه بن لادن):

فصل اول (ارتباطات سري میان اضلاع متحده امریکا وطالبان)

فصل دوم (وزارت خارجه منحیث میانجی طالبان) ،

ددې مقالې دنشریدونیټه نه ده ثبت شوې.

نویسنده:ژان چارلزبریسار، گیوم دسکي،

مترجمان:دوکتورمحمدآجان مرزي وشریف بهاند

۲ـ حقیقت ممنوع (درگیري های اضلاع متحده امریکا با اسامه بن لادن):

فصل سوم (یک خط عبوري گازبرای طالبان)

فصل چهارم(ملاعمر، متحد ناراحت کننده)

نویسنده:ژان چارلز بریسار، گیوم دسکي.

مترجمان:دوکتورمحمدآجان مرزي وشریف بهاند.

دخپریدونیټه نه لري.

۳ـ حقیقت ممنوع (درگیري های اضلاع متحده امریکا با اسامه بن لادن):

فصل پنجم ( مذاکرات به هر قیمت)

فصل ششم (گزارش نامه مذاکرات ممنوع)

دنشریدونیټه نه لري.

نویسنده:ژان چارلزبریسار،گیوم دسکي.

مترجما ن :دکتورمحمدآجان مرزي وشریف بهاند

۴ـ دنفتوپه مرسته په نړیوا ل ځواک اوښتل(نوي نړیوال نظم ته لاره)

لیکوال: اف، ویلیم انگدا ل،

ژباړونکی: شریف بهاند.

دخپریدونیټه نه لري.

۵ـ دریمه زریزه : د امریکا متحده ایالتونه،ناتواونړیوال نظم (جیوپولیتیکي څېړنه )

لیکوال:شریف بهاند.

دخپرید ونیټه نه لري.

۶ـ نړیوال کیدل (Globalization) (دیویشتمي پیړۍ ستراتیژي)

لیکوال : شریف بهاند.

دخپریدونیټه نه لري.

۷ـ خونړۍ پولې:

دامقاله دوې برخې لري.لومړۍ برخه کې یې په افریقا، منځني ختیځ اونږدې ختیځ په ستراتیژیکوسیموکې دمصنوعي اوغیرمنصفانه پولو رامنځ ته کولوپه باب علمي ـ څېړنیز بحث شوی دی،اوداپوښتنه په کې رامنځ ته شوې چې دغه غیرمنصفانه پولې په څه دول دچا له خوا،څه وخت اودکوموموخو له پاره رامنځ ته شوي دي،چې له کتوڅخه یې زیان دیردی.په دویمه برخه کې یې« دنوي اولاښه منځني ختیځ څرنگوالی» څېرل شوی دی.

لیکوال:رالف پیترز ،

ژباړن:شریف بهاند،

دخپریدونیټه:۲۰۰۶/ ۰۹/۰۹

۸ــ دنړیوال کیدو په پیر(عصر) کې دامریکا دمتحده ایالتونوامپراتوري.

لومړۍ برخه (دیویشتمي پیړۍ له پاره دبوش دکترین)

لیکوال:یورګین واګنر ،

ژباړونکی:شریف بهاند ،

دخپریدونیټه نه لري.

۹ــ دنړیوال کیدوپه پیر(عصر) کې دامریکا دمتحده ایالتونوامپراتوري

دویمه برخه ( دټول وژنو وسلوله پراختیا څخه مخنیوی اودوارمخکې کولوحق اوجګړه د شک پربنسټ)

لیکوال: یورګین واګنر،

ژباړونکی: شریف بهاند.

دخپریدونیټه نه لري.

۱۰ــ کلتوري ټکراودهغه دپایلواغیزپراقتصاد،سیاست،ښوونې او روزنې.

لیکوال: شریف بهاند.

دخپریدونیټه نه لري.

۱۱ــ دسوکالۍ له پاره نړیواله جګړه (لومړۍ برخه)

لیکوال : ګابورشتاینګارت،

ژباړونکی :شریف بهاند.

دخپریدونیټه نه لري.

۱۲ــ دسوکالۍ له پاره نړیواله جګړه (دویمه برخه)

لیکوال :ګابوشتاینګارت،

ژباړونکی:شریف بهاند.

دخپریدونیټه نه لري.

۱۳ــ نړیوال امنیت اونړیوال مسؤلیت (لومړۍ برخه)

لیکوال :شریف بهاند.

دخپریدونیټه نه لري.

۱۴ــ نړیوال امنیت اونړیوال مسؤلیت (دویمه برخه)

لیکوال : شریف بهاند.

دخپریدونیټه نه لري.

۱۵ــ چند قطبي شدن نظم جهاني (قسمت اول)

نویسنده :شریف بهاند.

دخپریدونیټه نه لري.

۱۶ــ بریتانیا:دطبیعي زیرموپه باب زړې نوې ستراتیژۍ ( لومړۍ برخه )

لیکوال :شریف بهاند،

دخپریدونیته:د۲۰۰۷ کا ل اپریل.

۱۷ـ دآیروآسیا ( Eurasien) دسیمي پرسرسیالي (لومړۍ برخه)

لیکوال :شریف بهاند،

دخپریدونیته :د۲۰۰۷کا ل اکتوبر.

۱۸ـ دآیروآسیا ( Eurasien ) دسیمي پرسرسیالي ( دمتحده ایالتونوستراتیژي اودروسیې اوچین موخي (دویمه برخه )

لیکوال شریف بهاند،

دخپریدونیته:د۲۰۰۷ کا ل اکتوبر.

۱۹ـ دآیروآسیا ( Eurasien ) دسیمي پرسرسیالي (دفسیلي انرژۍ زړې نوې نقشي) ( دریمه برخه )

لیکوال شریف بهاند،

دخپریدونیته: د۲۰۰۷ کا ل دسمبر.

۲۰ ــ د ډا لرواو یوروترمنځ پټه سیالي ( لومړۍ برخه )

لیکوال :شریف بهاند ،

دخپریدونیته: د۲۰۰۸ کا ل جنوري.

۲۱ـ د ډالرواویوروترمنځ پټه سیالي (دویمه برخه)

لیکوال:شریف بهاند،

دخپریدونیته:۲۰۰۸ /۰۲/۰۲

۲۲ـ د ډالرواویوروترمنځ پټه سیالي ( دریمه برخه )

لیکوال: شریف بهاند،

دخپریدونیته:۲۰۰۸/۰۲/۱۸

۲۳ـ د ډالرو اویوروترمنځ پټه سیالي ( څلورمه برخه )

لیکوال شریف بهاند.

دخپریدونیته:۲۰۰۸/۰۲/۲۷

۲۴ـ دکوزوو خپلواکي،دآزادۍ په نامه دآزادۍ له منځه وړل ( لومړۍ برخه )

لیکوال:شریف بهاند،

دخپریدونیته:۲۰۰۸/۰۳/۱۷

۲۵ـ په نړیوالواړیکوکي دنوي پړاوپیل ( لومړۍ برخه )

لیکوال:شریف بهاند،

دخپریدونیته:د۲۰۰۹ کا ل دفبرورۍ ۲۶ .

۲۶ـ نا څرګند څواک،دافغان ناورین لامل .

لیکوال:شریف بهاند،

دخپریدونیته:د۲۰۰۹ کال داپریل لومړۍ.

۲۷ـ پرده دوم بازي بزرګ .

لیکوا ل :شریف بهاند،

دخپریدونیټه:د۲۰۰۹ کا ل داګست ۲۸.

۲۸ـ دبشردرښتو(حقوقو) په منل اوپلي کیدوکي لوړي اوژوري(دبشردرښتودنړیوالي اعلامیې دخپریدودیوشپیتم کا ل په ویاړ)

لیکوال:شریف بهاند،

دخپریدونیټه:۲۰۰۹/۱۲/۰۸

۲۹ـ دبشردرښتو(حقوقو) په منل اوپلي کیدوکي لوړي اوژوري (دبشردرښتودنړیوالي اعلامیې دخپریدودیوشپیتم کال په ویاړ)،(دویمه برخه)

لیکوال : شریف بهاند،

دخپریدونیټه:۲۰۰۹/۱۲/۱۲ .

۳۰ـ طبیعي زیرمې،دسوکالی وسیله که دجګړې لآمل؟ (لومړۍ برخه)

لیکوال:شریف بهاند،

دخپریدونیټه:د۲۰۱۰کال داګست دیرشمه.

۳۱ـ ناتود دښمن په لټه (لومړۍ برخه)

لیکوال:شریف بهاند،

دخپریدونیټه:۲۰۱۰/۱۲/۲۶.

۳۲ـ طبیعي زیرمې،دسوکالی وسیله که دجګړې لامل؟ (دویمه برخه)

لیکوال:شریف بهاند،

دخپریدونیټه:۲۰۱۱/۰۱/۱۳.

۳۳ـ طبیعي زیرمې،دسوکالی وسیله که دجګړې لامل؟ ( دریمه برخه)

لیکوال :شریف بهاند،

دخپریدونیټه:۲۰۱۱/۰۲/۲۷.

۳۴ـ دپوځي اډودجوړولواړتیا اودهغوموخې (لومړۍ برخه)

لیکوال:شریف بهاند،

دخپریدونیټه:۲۰۱۱/۰۴/۱۱.

۳۵ـ دپوځي اډودجوړولواړتیا اودهغوموخې ( دویمه برخه)

لیکوال:شریف بهاند،

دخپریدونیټه:۲۰۱۱/۰۴/۱۷.

۳۶ـ دپوځي اډودجوړولواړتیا اودهغوموخې (دریمه برخه)

لیکوال:شریف بهاند،

دخپریدونیټه:۲۰۱۱/۰۵/۰۳

۳۷ـ اروپایی ټولنه،متحده ایالتونه اوناتو؛سیال که همکار؟

لیکوال:توبیاس فیلوګر،

ژباړونکی:شریف بهاند،

دخپریدونیټه:۲۰۱۱/۰۵/۱۹.

۳۸ـ دپوځي اړودرامنځ ته کولواړتيا اودهغوموخي (څلورمه برخه)

ليکوال شريف بهاند،

دخپريدونيټه:۲۰۱۱/۰۶/۰۷

له افغان جرمن آنلاين ويبسايت نه وروسته، په بينوا ويبپاڼه( benawa.com )کي داستاد شريف بهاند مقالي دپاملرني وړدي.زما دڅيړنوله مخي په بينوا ويبپاڼه کي داستاد څلورمقالي خپرې شوې دي، خودا هغه مقالي دي چي په عين وخت، يا دوخت په لږڅه توپير سره په افغان جرمن کي هم خپرې شوې دي.دهغوڅلورومقالوسرليکونه اودخپريدونيټي دا دي:

۱ـ پراقتصاد،سياست،ښوونې او روزنې کلتوري ټکراودهغه دپايلواغيز.

ليکوال:شريف بهاند،

دخپريدونيټه:نه لري.

۲ـ خونړۍ پولي،

ليکوال:شريف بهاند،

دخپريدونيټه:۰۷/۰۹/۲۰۰۶

۳ـ دنړيوال کيدوپه عصرکي دامريکا امپراتوري(لومړۍ برخه)

ليکوال:يورګين واګنر،

ژباړونکی:شريف بهاند،

دخپريدونيټه:۱۰/۲۰۰۶/۰۳

۴ـ دنړيوال کيدوپه پير(عصر) کي دامريکا امپراتوري(دويمه برخه)

ليکوال:يورګين واګنر،

ژباړونکی:شريف بهاند،

دخپريدونيټه:۰۳/۱۰/۲۰۰۶

په ټول افغان ويبپاڼه کي هم داستاد شريف بهاند ډيرې مقالي پيدا کولای شو،خوتوپيرېي دا دی چي په ټول افغان کي ځيني مقالي راغلي دي چي په نورويبسايټونوکي نه شته.دلته يي دنوروځانګړنوله يادوني تيريږم،يوازې دمقالي په سرليک اودخپريدوپه نيټه باندې بسنه کوم:

۱ـ خونړۍ پولي(۰۷/۰۹/۲۰۰۶)

۲ـ کلتوري ټکراودهغه دپايلواغيز،پراقتصاد،سياست،ښوونې اوروزنې(۲۹/۱۱/۲۰۰۶)

۳ـ نړيوال امنيت اونړيوال مسؤليت،لومړۍ برخه،(۲۰۰۶/۱۲/۰۲)

۴ـ دسوکالی له پاره نړيواله جګړه،لومړۍ برخه،(۲۰۰۶/۱۲/۲۴)

۵ـ نړيوا ل امنيت اونړيوال مسؤليت،دويمه برخه،(۱۳/۰۳/۲۰۰۷)

۶ـ داروآسيا(Eurasien) دسيمې پرسرسيالي،لومړۍ برخه،(۲۰۰۷/۱۰/۰۹)

۷ـ دمتحده ايالتونوستراتيژي اودروسيې اوچين موخي،دويمه برخه،(۲۰۰۷/۱۰/۲۵)

۸ـ چند قطبي شدن نظم جهاني،لومړۍ برخه،(۲۰۰۷/۰۴/۰۷)

۹ـ بريتانيا:دطبيعي زيرموپه باب زړې نوې ستراتيژۍ،لومړۍ برخه،(۲۰۰۷/۰۴/۲۴)

۱۰ـ نړيوال کيدل(Globalization)،ديويشتمې پيړۍ ستراتيژي،(۲۰۰۷/۰۷/۱۳)

۱۱ـ داروآسیا(Eurasien) دسیمي پرسرسیالي،دریمه برخه،(۲۰۰۷/۱۲/۱۱)
۱۲ـ دېالراو یورو ترمنځ پټه سیالي،لومړۍ برخه،(۲۰۰۸/۰۱/۲۵)
۱۳ـ دېالراویورو ترمنځ پټه سیالي،دویمه برخه،(۲۰۰۸/۰۲/۰۲)
۱۴ـ دېالرواویوروترمنځ پټه سیالي،دریمه برخه،(۲۰۰۸/۰۲/۲۳)
۱۵ـ دېالرواویوروترمنځ پټه سیالي،څلورمه برخه،(۲۰۰۸/۰۳/۱۷)
۱۶ـ په نړیوالواړیکوکي دنوي پراوپیل،لومړۍ برخه(۲۰۰۹/۰۲۲۶،)
۱۷ـ نا څرګند څواک،دافغان ناورین لامل،(۲۰۰۹/۰۴/۰۷)
۱۸ـ پرده دوم بازي بزرګ،(۲۰۰۹/۰۸/۲۹)
۱۹ـ دبشردرښتو(حقوقو) په منل اوپلي کیدوکي لوړې ژورې،لومړۍ برخه،(۲۰۰۹/۱۲/۰۷)
۲۰ـ دبشردرښتو(حقوقو) په منل اوپلي کیدوکي لوړې ژورې،دویمه برخه،(۲۰۰۹/۰۸/۱۲)
۲۱ـ طبیعي زیرمي،دسوکالی وسیله که دجګړې لامل؟ لومړی برخه،(۲۰۱۰/۰۸/۳۰)
۲۱ـ طبیعي زیرمي،دسوکالی وسیله که دجګړې لامل؟ دویمه برخه،(۲۰۱۱/۰۱/۱۲)
۲۲ـ طبیعي زیرمي،دسوکالی وسیله که دجګړې لامل؟دریمه برخه،(۲۰۱۱/۰۲/۰۳)
۲۳ـ طبیعي زیرمي،دسوکالی وسیله که دجګړې لامل؟څلورمه برخه،(۲۰۱۱/۰۲/۲۸)
۲۴ـ ناتوددښمن په لټه کي،لومړۍ برخه،(۲۰۱۰/۱۲/۲۷)
۲۵ـ ناتوددښمن په لټه کي،دویمه برخه،(۲۰۱۱/۰۱/۰۲)
۲۶ـ دپوځي اډودجوړولواړتیا اودهغوموخي،لومړۍ برخه،(۲۰۱۱/۰۴/۱۱)
۲۷ـ دپوځي اډودجوړولواړتیا اودهغوموخي،دویمه برخه،(۲۰۱۱/۰۴/۱۶)
۲۸ـ دپوځي اډودجوړولواړتیا اودهغوموخي،دریمه برخه،(۲۰۱۱/۰۵/۰۲)
۲۹ـ دپوځي اډو دجوړولواړیا اودهغوموخي،څلورمه برخه،(۲۰۱۱/۰۶/۰۸)

په لراوبروییبپانه کي هم که لټه وشي داستاد مقالي په کي ترلاسه کیدای شي.ددې مقالي دلیکلوپه ورستیوورځوکي مي په(لر اوبر) کي داستادپه یوه مقاله سترګي ولګیدې،داستاد دلومړي تلین دورځي درارسیدو له امله مي ونه شوکړای دلراوبرغني آرشیف له سره ترپایه ولټوم،څومقالي یې چي زما ترنظرتیرې شوې دلته دنموني په ډول یادوم:

۱ـ داروآسیا(Eurasien) دسیمي پرسرسیالي(سریزه)،(۱۳/۱۰/۲۰۰۷)
۲ـ داروآسیا(Eurasien) دسیمي پرسرسیالي،دویمه برخه (د ۲۰۰۷ کال اکتوبر)
۳ـ دایروآسیا (Eurasien) دسیمي پرسرسیالي دریمه برخه (۱۳/۱۲/۲۰۰۷)
۴ـ دېالراوایروترمنځ پټه سیالي (څلورمه برخه) ،( ۲۷/۰۲ ۲۰۰۸)

دغه رازکله چي د۲۰۰۸ کال په اګست کي د((آزاد افغانستان ))(afgazad.com)په نامه دافغانانوبل ویبسایت پرانستل شو، استاد شریف بهاند خپلي لیکني دوطنوالوداستفادې له پاره هلته هم وراستولې.په ((آزادافغانستان)) نومي بریښنا پاڼه کي داستاد شریف بهاند دغه مقالي خپرې شوې دي:

۱ـ ناتوددښمن په لټه، لومړۍ برخه،(د۲۰۱۰ کال دسمبر)
۲ـ ناتوددښمن په لټه، دویمه برخه،(۲۰۱۱/۰۱/۰۳)

۳ـ طبيعي زيرمي، دسوکالی وسيله که دجګړې لامل؟ دويمه برخه،(دريمه زريزه اودطبيعي توکوپرسرسره جګړه)،(۲۰۱۱/۰۱/۱۲)

۴ـ طبيعي زيرمي، دسوکالی وسيله که دجګړې لامل؟دريمه برخه،(دسيا ل دله پښوغورځولوستراتيژي)،(۲۰۱۱/۰۱/۱۴)

۵ـدپوځي اړودجوړولواړتیااودهغوموخي،دويمه برخه،(پوځ دنړيوالیدوتضمينونکی)،(۲۰۱۱کال اپريل)

۶ـ دپوځي اړودجوړولواړتيا اودهغوموخي،دريمه برخه،(دمتحده ايالتونوپوځي قومنداني اودهغوموخي)،(د۲۰۱۱ کال دمی دريمه)

۷ـ دپوځي اړودرامنځ ته کولو(جوړولو)اړتيا اودهغوموخي،دريمه،(دناتوپوځي سازمان اوافغان غميزه)،(د۲۰۱۱ کال دجون اوومه)

په دې ډول ګوروچې په افغان جرمن آنلاين، بينوا، ټول افغان، لراوبر اوآزادافغانستان ويبپاڼوکي د استاد شريف بهاند مقالي خپرې شوې دي، چې ما يې پورته په امانتدارۍ سره دسرليکونواوخپريدودنيټو يادونه وکړه؛خوددې خبرې يادول اړينه ګڼم چې په پورته يادوويبسايتونوکي دځينومقالو، ځيني برخي يا هيڅ نه شته، اويا هم وړاندې وروسته دچاپ له پاره ليږل شوي دي اويا هم وړاندې وروسته چاپ شوي دي، اوسړی نه شي ويلای چې دژباړن اوليکوال، استاد شريف بهاند خپل شخصي ملحوظات به وواوکه به يې دنه ژباړې يا نه چاپ اويا هم وړاندې وروسته چاپ ته ليږلوکي به څه ستونزې وې؛ له بده مرغه داستادشريف بهاندبې وخته مړيني دا غوټه پرځای پريښوده اوداوس له پاره څوک څه نه شي ويلای.

دا چې پرته له پورته يادوآدرسونوڅخه، په نوروځايونوکي داستاد شريف بهاند مقالي اوآثارخپاره شوي دي که نه؟زه داوس له پاره څه نه شم ويلای،دا پوښتنه جلا څيړني او وخت ته اړتيا لري.

داستادشريف بهاند دنوروآثاروا ومقالو ديادولوپه برخه کي بايد ووايم چې، استاد داقتصادي اوسياسي ليکنوپه برخه کي يوجدي اوپرکاره قلموال و، له ډير لږوخت نه يې هم ډيره اعظمي استفاده کوله،دليکني په برخه کي اودليکني دشکلي مسايلو په برخه کي يې تل له ژبپوهانواومسلکي اشخاصوسره مشوره کوله اودخپلوليکنواوژباړوله پاره يې تل له مسلکي پوهانوسره سراوکار درلود؛تر وسه وسه پورې يې دشکل اومحتوی دواړوپه برخه کي دتيروتنومخنيوی کاوه اوهڅه يې کوله چې يوه پا که،دماخذونوپه ښوولوسره،په علمي معيارونو باربره ليکنه لوستونکوته وړاندې کړي.

له استاد شريف بهاند نه دراپاتي اسنادواوپاڼوڅخه دده مستقلوآثارلست،داسي معرفي کولای شو:

1. Ausgewählte Fragen der Volkswirtschaftsplanung der DDR unter dem Aspekt ihrer Anwendung in der DR Afghanistan zur Vervollkommnung des dort existierenden Systems der Industrieplanung.

دا داستاد شريف بهاند دماسترۍ تيزس دی چې په ۱۹۸۵ کال کې ليکل شوی دی.

2.Aktuelle Fragen der internationalen Politik in Asien – Die gegenwärtige Konfliktlage in Afghanistan und die Aufgaben einer Regierung der nationalen Aussöhnung.

ددې دوواثاروپه باب بايد يادونه وکړم چې داوس له پاره مي دژباړې په برخه کي څوک پيدا نه کړل چې مرسته راسره کړې وای،چې يوڅه نوره رڼا مي پرې اچولې وای؛دهمدې له پاره مي يوازې دکتابونودنومونوپه ليکنه بسنه

وکړه.که مې دعناوينوپه برخه کې تيروتنه کړي وي،لومړی له استاد شريف بهاند نه اوبيا له لوستونکوونه بښنه غواړم.

څنګه چې دواړه کتابونه په جرمني ژبه ليکل شوي دي، دهمدې له پاره يې پريږدم دهغواقتصاد پوهانوراتلونکوڅيرنوته چې داقتصاد پوهنې ترڅنګ په جرمني ژبې هم لاسبرى ولري.

۳ـ دبشردحقوقودنړيوالي اعلاميې پښتو، دري اوالماني متن.

ژباړونکی:شريف بهاند

په دې رساله کې د بشردحقوقودنړيوالي اعلاميې بشپړمتن په پښتو،دري اوجرمني ژبوچاپ شوى دى،کوم متن يې چې داوس له پاره زما په واک کې دى،دخپريدونيټه،دخپريدوځاى اودخپروونکي مؤسسې يا شخص نوم نه لري.

۴ـ پردهٔ دوم بازي بزرگ (تحقق منافع ستراتيژيک درپوشش دموکراسي)،دانش خپرندويه ټولنه، کابـل، ۱۳۸۸هجري/۲۰۰۹ع .

۵ـ داروآسيا (Eurasien) پرسرسيالي (جيوپوليتيکي څيړنه)،خپريدوته چمتو،

۶ـ نړيوال کيدل (ديويشتمې پيړی ستراتيژي)،دژباړوټولګه،خپريدوته چمتو،

۷ـ حقيقت ممنوع (ژباړه)،

۸ـ دپرمختيايي هيوادونواقتصادي سياست،دافغانستان په بيلګه (ترليکنې لاندې وخو له بده مرغه چې ...)

که زه دهرې مقالې آدرسونه په جلاجلا ډول وليکم،خبره اوږديږي اودا ديوې مقالې له حوصلې نه وتلې خبره ده.ښاغلي لوستونکي کولای شي چې ديادو ويبسايټونوآرشيفونه خلاص کړي اوپه هغوکې داستاد شريف بهاند په قلم ليکلې اوژباړلې مقالې ولولي.

داستاد شريف بهاند روح دې ښاد وي.